**د مسؤلیت درفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانگه**

**د متحدالمآل گڼه: ۱۳** **نېټه: ۲ / ۲ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** د سترې محکمې د دارالانشاء ریاست د ۱۴۴۳/۱۰/۲۲ هـ ق نېټې د (۱۵) گڼه متحدالمآل په تعقیب په درناوي سره لیکو:

د سترې محکمې محترمې عالي شورى د ۱۴۴۳/۱۰/۲۹ هـ ق نېټې جلسې د (۵۷) گڼه تصویب پر بنسټ داسې هدایت وکړ:

((د پخوانۍ اداري د ناتطبیق شویو نهائي فیصلو د طرزالعمل د ترتیب موضوع د مرکزي تمیز عالي رئیس محترم شیخ محمد شریف "حقاني" صاحب په مشرۍ د مرکزي دیوانونو رئیسانو ته وسپارل شوه تر څو په (۳) ورځو کې د ناتطبیق شویو نهائي فیصلو په تړاو طرزالعمل ترتیب او د سترې محکمې عالي مقام ته یې وړاندې کړي. دا طرزالعمل دې بیا د محترمې عالي شورى په جلسه کې تر بحث لاندې ونیول شي او د اصلاح او تایید وروسته دې د اسلامي امارت عالي محترم مقام ته واستول شي.))

د سترې محکمې د عالي شورى د محترم مقام له هدایت سره سم، یادې کمېټې، چې مشري یې د مرکزي تمیز رئیس صاحب پر غاړه درلوده او د مرکزي دیوانونو محترم رئیسان یې غړي وو، (د پخوانۍ اداري د هغه فیصلو، چې نهائي یا قطعي شوې وي، خو تطبیق شوې نه وي) په اړه په ۱۲ مادو کې یو طرزالعمل ترتیب کړ چې سلسلتاً د افغانستان اسلامي امارت عالي محترم مقام ته وړاندې کړل شو. د اسلامي امارت عالي محترم مقام له یو لړ اصلاحاتو وروسته یاد طرزالعمل په /ذولحجة الحرام/۱۴۴۳ هـ ق تصویب کړی او د (۸۰۱/ج/۱) صادرې په ذریعه یې په ۱۴۴۳/۱۲/۵ هـ ق نېټه د سترې محکمې محترم مقام ته استولی دی.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپانه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپانې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

بناءً، (د پخوانۍ اداري د هغه فیصلو، چې نهائي یا قطعي شوې وي، خو تطبیق شوې نه وي) په اړه د ځانګړې محکمې طرزالعمل چې په ۱۲ مادو کې ترتیب شوی دی، د افغانستان اسلامي امارت د عالي محترم مقام د تاییدۍ وروسته او د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت مطابق د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شو تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.